# د افغانستان اقتصاد څارنه

نړیوال بانک

مارچ 2025

Afghanistan Futures
ASSESS, ANALYZE, ADVISE

د افغانستان د اقتصاد دغه میاشتنۍ څارنه، د افغانستان پر اقتصاد او ټولنې د نړیوال بانک د څېړنې، څارنې او تحلیلي راپورونو د پروګرام، **د افغانستان راتلونکې**، برخه ده.  د **افغانستان راتلونکې**، هڅه کوي چې د نړیوالو تګلارو د مباحثې لپاره معلومات چمتو کړي، څکه نړیواله ټولنه ارزونه کوي چې څه ډول د افغانستان د خلکو ملاتړ کولی شي. د افغانستان د اقتصادي څارنې دغه راپور د خصوصي سکتور، کورنې ژوند او جنسیت په اړه د سروې ګانو، او همدا راز د سکتوري راپورونو چې د افغانستان د پرمختګ معلومات ورکوي، او شپږ میاشتنۍ مهم راپور دی، سره یو ځای کیږي.

# مهم ټکي

**د افغانستان محدوده اقتصادي وده د بې وزلۍ او بېکارۍ له منځه وړلو لپاره بسنه نه کوي، په داسې حال کې چې د بهرنیو مرستو کمښت نور ګواښونه رامنځته کوي.**

په 2023 مال کال کې د افغانستان اقتصادي وده یو مثبت پرمختګ دی، او اټکل کیږي چې دغه بهیر به په 2024 مالي کال کې هم دوام وکړي وي. په هر حال، د اقتصادي ودې کچه په ټولنیزو شاخصونو کې د مثبت بدلون لپاره بسنه نه کوي. د بې وزلۍ پراخه اندازه، په لوړه کچه بې کاري، محدود امکانات، کمزورې تګلارې او د پېرلو کمزورې ځواک میلیونونه خلک له سختو اقتصادي شرایطو سره مخ کوي. د ناڅرګنده تګلارو، مالي انزوا، د بشري او فزیکي پانګې د کمښت له امله د هېواد اقتصادي لیدلوری نازک او کمزوری دی. امکان لري چې دغه ننګونې د سوداګرۍ او مرستو د بې ثباتۍ له امله نورې هم زیاتې شي.

**د 2025 کال د فبرورۍ په میاشت کې د هېواد دننه بیې د جنورۍ په پرتله لوړې شوې، چې لاملونه یې د خوراکي توکو په نړیوالو بیو کې لوړوالی او له روژې څخه مخکې زیاته شوې تقاضا وه.**

د 2025 کال په فبرورۍ کې د هېواد دننه بیې د تېرې میاشتې په پرتله 1.7 سلنه لوړې شوې، چې د جنورۍ په میاشت کې د منځنۍ کچې بدلونونو څخه وروسته چټک زیاتوالی څرګندوي. د بیو دغه زیاتوالی تر ډېره د خوراکي توکو په بیو کې د 2.4 سلنه، او د غیر خوراکي توکو په بیو کې د 1.0 سلنه لوړوالي له امله رامنځته شوی. د غیر خوراکي توکو په بیو کې دغه میاشتنی زیاتوالی په اصل کې د لاندې توکو په بیو کې د پام وړ لوړوالي له امله و: لباس (2.3 سلنه)، ټرانسپورټ (1.6 سلنه)، فرنیچر او د کور وسایل (1.6 سلنه)، زده کړې (0.9 سلنه)، استوګنځایونه (0.6 سلنه)، او همدا راز د روغتیا او د معلوماتي خدماتو په بیو کې د لوړوالي له کبله رامنځته شوې دي. د بېلګې په توګه، د ګل لرونکي پنبې ټوکر اوسط بیه د جنورۍ میاشتې د 103 افغانیو (1.4 ډالرو) څخه، د فبرورۍ په میاشت کې 111 افغانیو (1.5 ډالرو) ته لوړه شوې، چې 8 سلنه زیاتوالی څرګندوي. د کورونو کرایې هم لوړې شوي دي: په کابل کې د غیر کانکریټي کورونو کرایه د 3 سلنه لوړوالي سره، له 8,439 افغانیو (113 ډالرو) څخه، 8,695 افغانیو (118 ډالرو) ته رسېدلې، د کانکریټي کورونو کرایه 1 سلنه لوړه شوې او له 11,503 افغانیو (154 ډالرو) څخه، 11,640 افغانیو (158 ډالرو) ته رسېدلې. د ټرانسپورټ لګښتونه هم 1.6 سلنه زیات شوي، چې تر ډېره د ډیزلو په بیه کې د 2 سلنه لوړوالي پایله ده، په داسې حال کې چې د پټرولو بیې په خپل ځای پاتې دي. په هر حال، د انرژۍ بیې ښکته راغلې، چې د سوځولو لرګیو او د مایع ګاز بیې په ترتیب سره 9 سلنه او 1 سلنه کمې شوې.

د 2024 کال د فبرورۍ په میاشت کې د 9.7 سلنه کمښت سره په پرتله، د 2025 کال په فبرورۍ کې د هېواد دننه بیې په کال کې 0.3 سلنه راټیټې شوې. دغه کمښت تر ډېره د خوراکي توکو د عرضې د زیاتوالي په پایله کې د 2.2 سلنه ټیټوالي له امله و. بر عکس، د 2024 کال د فبرورۍ په پرتله، د لوړې تقاضا له کبله د غیر خوراکي توکو بیې 1.6 سلنه لوړې شوې. اصلي انفلاسیون — چې د خوراکي توکو او انرژۍ بیې په کې شاملې نه دي — 1.9 سلنه ته ورسېد، چې د رمضان له میاشتې څخه وړاندې په ټولیزه تقاضا کې په منځنۍ کچه تدریجي رغېدنه څرګندوي، چې له امله یې د ډیفلاسیون اوږد مهاله فشارونه کم کړل.

د 2023 مالي کال په لومړیو یوولسو میاشتو کې د 7.6 سلنه کمښت سره په پرتله، د افغانستان د 2024 مالي کال له پیل څخه وروسته د هېواد دننه بیې 4.6 سلنه کمې شوې دي. د دغه بهیر لوی عامل د خوراکي توکو په بیو کې 8.1 سلنه کمښت و. بر عکس، د همدې مودې په جریان کې د غیر خوراکي توکو بیې یوازې 0.9 سلنه راکمې شوې.

**د 2025 کال په مارچ کې د افغانستان بانک له خوا د ډالرو دوامداره لیلام او د رمضان او اختر په مناسبت د بهر میاشو افغانانو له خوا د پیسو پر لیږد کې د زیاتوالي له کبله د افغانۍ د ارزښت لوړوالي دوام درلود.**

د 2025 کال په مارچ کې د امریکایي ډالر پر وړاندې د افغانۍ ارزښت 3.6 سلنه لوړ شو، او یو ډالر په 71.1 افغانۍ پلورل کېده، په داسې حال کې چې د فبرورۍ په میاشت کې یو ډالر په 73.1 افغانۍ و. همدا راز، افغانۍ د لویو سوداګریزو شریکو هېوادونو د اسعارو پر وړاندې هم ارزښت تر لاسه کړ، چې له امله یې د تبادلې نومي موثر نرخ د 2025 کال په فبرورۍ کې د مخکې میاشتې په پرتله 1.6 سلنه لوړ شو. د افغانۍ په ارزښت کې لوړوالی د افغانستان بانک (مرکزي بانک) له خوا د ډالرو لیلام، او د رمضان او اختر په مناسبت د بهر میشتو افغانانو له خوا د بهرنیو اسعارو په لیږد کې د زیاتوالي له امله و. دغه فکتورونو د امریکایي ډالرو عرضه زیاته، او افغانۍ ته تقاضا لوړه کړه، چې د افغانۍ د لوړ ارزښت سره یې مرسته وکړه. د افغانستان او په سوداګرۍ کې د شریکو هېوادونو ترمنځ د انفلاسیون د پام وړ توپیر ته په کتو، د تبادلې حقیقي موثر نرخ (REER) د جنورۍ په پرتله، په فبرورۍ کې نږدې ثابت پاتې شوی دی.

په کلني ډول، افغانۍ د امریکایي ډالر پر وړاندې 9.4 سلنه ارزښت تر لاسه کړی، چې په 2024 مالي کال کې په اوسط ډول یو ډالر په 70.9 افغانۍ تبادله کېده، په داسې حال کې چې په 2023 مالي کال کې د تبادلې نرخ 78.2 افغانۍ و.

**د 2025 کال په مارچ کې د افغانستان سوداګرۍ کسر یو څه راکم شو، خو په 2024 کال کې د وارداتو د زیاتوالي، په صادراتو کې د کمښت او مختلفو اقتصادي ننګونو له کبله په کلني توګه زیات شو.**

د 2025 کال په مارچ کې د افغانستان د سوداګرۍ کسر د تېرې میاشتې په پرتله 0.6 سلنه کم شوی، او د فبرورۍ د میاشتې له 809 میلیونه ډالرو څخه، 804 میلیونه ډالرو ته ښکته راغلی. دغه کمښت په صادراتو کې د 27 میلیونه ډالرو د کموالي له کبله و چې په وارداتو کې د 32 میلیونه ډالرو د کمښت په پایله کې، چې د صادراتو په پرتله یې کچه زیاته وه، جبران شو. په هر حال، د 2024 کال د مارچ په پرتله د سوداګرۍ کلنی کسر 27.6 سلنه زیات شوی، چې لامل یې په وارداتو کې 17.9 سلنه زیاتوالی او د صادراتو په کچه کې 26.9 سلنه کمښت و. په 2024 مالي کال کې د سوداګرۍ کسر د پام وړ زیات شو، او د 48.2 سلنه زیاتوالي سره 9.4 میلیارده ډالرو ته ورسېد (د ناخالص کورني تولید 45.4 سلنه)، په داسې حال کې چې د 2023 مالي کال په جریان کې د سوداګرۍ کسر 6.3 میلیارده ډالر و (د ناخالص کورني تولید 40.4 سلنه). د سوداګرۍ په کسر کې زیاتوالی د څو عواملو له امله و، چې د افغانۍ لوړ ارزښت، پاکستان سره په سوداګرۍ کې د ستونزو دوام او د تولیزې تقاضا تدریجي لوړوالی په کې شامل دي.

د 2025 کال په مارچ کې د افغانستان صادرات د 21.3 سلنه کمښت سره 100 میلیونه ډالرو ته ورسیدل، په داسې حال کې چې په فبرورۍ کې کچه 127 میلیونه ډالر وه. د 2025 کال له جنورۍ څخه تر مارچ پورې ټول صادرات 376 میلیونه ډالرو په اندازه وو، چې د مخکې ربعې د 686 میلیونه ډالرو، او د 2024 د همدې مودې له 419.4 میلیونه ډالرو څخه لږ وو. د 2024 مالي کال په بهیر کې ټول صادرات 1.79 میلیارده ډالرو ته ورسېدل، چې د 2023 مالي کال د 1.81 میلیارده ډالرو په پرتله کم شوي وو.

د صادراتو د کموالي اصلي لامل د ډبرو سکرو په صادراتو کې 64 سلنه کمښت و، چې په 2024 مالي کال کې اندازه 92 میلیونه ډالر وه. د ډبرو سکرو د پام وړ کمښت له کبله ټول صادرات 12 سلنه کم شول، او 1.79 میلیارده ډالرو ته ورسیدل، چې لامل یې د پاکستان له خوا بیرته د خپلو دودیزو عرضه کونکو څخه د ډبرو سکرو د اخیستلو بیا پیلول وو. د منسوجاتو صادرات هم د 14 سلنه کمښت سره، 242 میلیونه ډالرو ته ورسیدل، چې عمده لاملونه یې د افغانۍ لوړ ارزښت، په نړیواله تقاضا کې کمښت او د پاکستان له خوا د لوړو تعرفو لګول وو. بر عکس، د خوراکي توکو صادرات د 4 سلنه زیاتوالي سره، 1.31 میلیارده ډالرو ته ورسیدل، چې د چین له خوا د تعرفو معافیت او د 2024 کال په دسمبر کې له پاکستان سره د سوداګرۍ زیاتوالی یې مهم لاملونه وو.

په 2024 کال کې د افغانستان د صادراتو په جوړښت کې 47 سلنه منځني خام توکي او 53 سلنه مصرفي توکي وو. د منځنیو خامو توکو صادرات 9 سلنه راکم شوي، خو د مصرفي توکو صادرات یوازې 0.1 سلنه زیات شوي، چې د مصرفي توکو پر لور د سوداګرۍ د تدریجي بدلون څرګندونه کوي. پاکستان د افغانستان تر ټولو لوی صادراتي بازار و، که څه هم ونډه یې د 2023 کال له 54 سلنې څخه، په 2024 کال کې 45 سلنې ته راکمه شوې، په داسې حال کې چې د هندوستان ونده د خوراکي توکو د صادراتو له امله 34 سلنې ته لوړه شوې. سوداګرۍ ته د تنوع ورکولو د هڅو په پایله کې ایران، قزاقستان، او ازبکستان هر یو هېواد ته شاوخوا 3 سلنه صادرات شوي دي. د خوراکي توکو او منسوجاتو صادرات تر نورو توکو زیات وو، چې په ټولو صادراتو کې یې ونده 82 سلنه وه، په داسې حال کې چې په 2023 کال کې ونده 71 سلنه وه.

**د 2025 کال د مارچ په میاشت کې د افغانستان واردات 3.4 سلنه کم شوي، خو د 2024 مالي کال په اوږدو کې د پام وړ زیات شول، چې لامل یې د پانګوني د توکو، منځني خام مواد او د مصرفي توکو په وارداتو کې زیاتوالی دی.**

د 2025 کال په مارچ کې د افغانستان واردات د 3.4 سلنه کمښت سره، 904 میلیونه ډالرو ته ورسیدل، حال دا چې په فبرورۍ کې د وارداتو اندازه 936 میلیونه ډالر وه. د 2025 کال له جنورۍ څخه تر مارچ پورې د ټولو وارداتو کچه 2.82 میلیارده ډالرو ته ورسیده، چې د مخکې ربعې له 3.41 میلیاره ډالرو څخه کمه وه، خو د 2024 کال د همدې مودې له 2.32 میلیارده ډالرو څخه زیاته وه. په 2024 مالي کال کې ټول واردات 11.16 میلیارده ډالر وو، چې د 2023 مالي کال له 8.14 میلیارده ډالرو په پرتله زیات وو.

په وارداتو کې د پام وړ زیاتوالی په ټوله کې د پانګوني توکو او د منځنیو خامو موادو د وارداتو د زیاتوالي له امله و، چې په 2024 کال کې هر یو په ترتیب سره 49 سلنه او 43 سلنه زیات شوي. دغه دواړه توکي په ګډه د ټولو وارداتو 53 سلنه جوړوي، چې د تېر کال په پرتله دوه سلنه زیات شوي، او دا د هېواد دننه د صنعتي او تولیدي فعالیتونو د زیاتوالي نښه ده. مصرفي توکي هم په 2024 کال کې په کلني توګه 30 سلنه زیات شوي چې په ټولو وارداتو کې یې ونده 40 سلنه ته رسیږي.

په 2024 کال کې د افغانستان د وارداتو مهم توکي ټرانسپورټي وسایل (چې په کال کې 86 سلنه زیات شوي)، معدني تولیدات—په ځانګړي ډول پټرول او سیمنټ (56 سلنه زیاتوالی)، او کیمیاوي مواد (51 سلنه زیاتوالی) وو. په 2024 کال کې د وارداتو ترکیب په څرګند ډول بدل شو: د ټرانسپورټي توکو ونده د 2023

کال له 7 سلنه څخه 10 سلنه (1.04 میلیارده ډالرو) ته لوړه شوه؛ معدني توکي له 20 سلنه څخه 22 سلنه (2.41 میلیارده ډالرو) ته پورته شول؛ د کیمیاوي او اړوندو صنعتي توکو ونډه له 7 سلنه څخه 8 سلنه (0.84 میلیارده ډالرو) ته زیاته شوه. د افغانستان تر ټولو زیات واردات له ایران څخه وو، چې د 2024 کال په وارداتو کې یې ونډه 30 سلنه وه، په داسې حال کې چې د پاکستان ونډه 16 سلنه، او چین 7 سلنه برخه لرله.

**د 2024 مالي کال په جریان کې د افغانستان ټول عواید 241.3 میلیارده افغانیو ته ورسیدل، چې د مالیاتو، ګمرکي محصول او په غیر مالیاتي عوایدو کې د پام وړ زیاتوالي پایله وه، سره له دې چې په متفرقه عوایدو کې څرګند کمښت راغلی و.**

د افغانستان 2024 مالي کال د دولسمي میاشتي (2024 مالي کال د 2024 د مارچ له 21 څخه پیل، او د 2025 د مارچ تر 20 نېټې پورې دوام کوي) په اوږدو کې ټول عواید 29.6 میلیارده افغانۍ وو، چې د یوولسمي میاشتي په پرتله 39 سلنه میاشتنی زیاتوالی ښیي، او د 2023 مالي کال د یوولسمي میاشتي په پرتله 33 سلنه کلنی زیاتوالی ښیي. په عوایدو کې په لوړه کچه میاشتنی زیاتوالی تر ډېره د مالیاتو، غیر مالیاتي عوایدو او ګمرکي محصول کې د پام وړ زیاتوالي له امله و، چې په ترتیب سره 16 سلنه، 14 سلنه او 11 سلنه زیات شوي دي. د مالیاتو او ګمرکي محصول عواید د تېر کال په پرتله هم زیات شوي، خو غیر مالیاتي عوایدو یو څه کمښت درلود.

په مالي کال (د 2024 کال د مارچ له 22 څخه، د 2025 کال د مارچ تر 21 پورې) کې د افغانستان عواید په ټوله کې زیات شوي، چې 241.3 میلیارده افغانیو (نږدې 3.4 میلیارده ډالر) ته رسیدلي، چې د ناخالص کورني تولید له 16.6 سلنې سره برابر دي. د مالي کال په اوږدو کې عواید 14 سلنه زیات شوي، او د ټاکل شوي هدف څخه 6 سلنه زیات دي.

د داخلي مالیاتو عواید د 28.5 سلنه زیاتوالي سره، 93.0 میلیارده افغانیو ته رسیدلي، چې د مالي کال د عوایدو په وده کې یې 5.3 سلنه ونډه لرله. د دغه عوایدو شاوخوا 50 سلنه له سوداګریزو فعالیتونو څخه په ګمرکونو کې راټول شوي دي. له سوداګرۍ څخه اخیستل شوي مالیات د ټولو ګمرکي عوایدو 37 سلنه جوړوي، او پاتې مالیاتي عواید له مختلفو سرچینو څخه ترلاسه شوي دي.

د ګمرکي محصول عواید د 29 سلنه زیاتوالي سره، 63.8 میلیارده افغانیو ته رسیدلي، چې د ټولو عوایدو په وده کې یې ونډه 3.8 سلنه وه. د ګمرک په عوایدو کې زیاتوالی د وارداتو د کچې د لوړوالي، د هېواد د پولو په ښه توګه مدیریت او د تعرفو د تنظیم پایله ده.


غیر مالیاتي عوایدو هم د پام وړ وده کړې ده، چې په 2024 مالي کال کې د 31.2 سلنه زیاتوالي سره، 83.7 میلیارده افغانیو ته رسیدلي دي. په غیر مالیاتي عوایدو کې زیاتوالی تر ډېره د کان کیندنې سکتور، محصول لرونکو سړکونو، د وسایطو ثبت، د پاسپورټونو وېش، ټرانسپورټي خدماتو، د الوتنو د عبور فیسونو، ریل پټلۍ، او د مخابراتو له عوایدو څخه سرچینه اخلي. غیر مالیاتي عواید د ټاکل شوي کلني هدف څخه 26 سلنه زیات راټول شوي دي.

برعکس، له نورو سرچینو څخه عواید په څرګند ډول کم شوي—چې د 2023 مالي کال له 25 میلیارده افغانیو څخه، په 2024 مالي کال کې 0.9 میلیارده افغانیو ته راکم شوي دي—او له دې امله یې د ټولو عوایدو په وده منفي اغېزه کړې ده. په دې برخه کې متفرقه عواید او له تېرو کلونو څخه انتقالات شامل دي.


## 1. د بیو تمایل

**د 2025 کال په فبروری کې د افغانستان کلنی انفلاسیون 0.3 سلنه و، چې اصلي لامل يې د خوراکي توکو د بيو کمښت و (2.2 سلنه)، په داسې حال کې چې اصلي انفلاسيون مثبت 1.9 سلنه ته ورسېد.**

**1.1. د بیو عمومي شاخص**




**2.1. عمومي او اصلي انفلاسيون (کلنی)**




**سرچینه**: د احصایې او معلوماتو ملي اداره.

**3.1. د کورنیو لپاره د اساسي توکو کلنی انفلاسیون**


| | اپریل-24 | می-24 | جون-24 | جولای-24 | اګست-24 | سپتمبر-24 | اکتوبر-24 | نومبر-24 | دسمبر-24 | جنوري-25 | فبروري-25 | مارچ-25 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ډوډۍ | -8.2 | -8.2 | -6.5 | -6.7 | -8.0 | -8.3 | -14.3 | -7.7 | -6.8 | -6.0 | -6.2 | -5.0 |
| تیل (ډیزل) | -15.1 | -13.2 | -8.2 | -5.9 | -2.8 | -6.9 | -13.9 | -8.7 | -5.5 | 1.7 | 2.3 | -2.2 |
| غوړي (د پخولو لپاره) | -31.2 | -26.4 | -22.7 | -18.3 | -17.0 | -11.0 | -0.4 | 14.1 | 20.4 | 22.3 | 21.5 | 20.7 |
| دال | -5.5 | -5.2 | -4.8 | -7.0 | -8.1 | -9.1 | -10.5 | -5.7 | -4.5 | -3.6 | -1.6 | -3.4 |
| وریجې (لوړکیفیت) | -18.1 | -19.3 | -19.7 | -19.3 | -18.5 | -16.5 | -15.1 | -10.6 | -9.1 | -7.8 | -8.0 | -4.9 |
| وریجې (ښکته کیفیت) | -4.3 | -7.0 | -8.7 | -10.2 | -11.0 | -11.5 | -11.6 | -8.1 | -6.1 | -6.2 | -7.7 | -6.9 |
| مالګه | -2.3 | 2.6 | 1.5 | 4.2 | 10.5 | 12.9 | 11.8 | 11.6 | 13.1 | 17.1 | 18.6 | 17.0 |
| بوره | 7.1 | -9.9 | -15.0 | -13.5 | -16.2 | -19.6 | -21.7 | -21.5 | -19.3 | -15.6 | -17.0 | -16.1 |
| غنم | -25.9 | -24.0 | -22.8 | -20.5 | -20.7 | -19.4 | -20.9 | -19.8 | -16.8 | -17.0 | -17.7 | -17.0 |
| د غنمو وړه (لوړکیفیت) | -21.8 | -19.5 | -13.0 | -9.4 | -9.2 | -7.7 | -13.8 | -9.8 | -6.6 | -4.0 | -7.3 | -7.4 |
| د غنمو وړه (ښکته کیفیت) | -27.6 | -24.3 | -18.8 | -14.2 | -13.5 | -11.9 | -15.3 | -11.8 | -7.5 | -3.8 | -5.6 | -6.6 |
| **د کورنۍ د اساسي توکو د بیو انفلاسیون** | **-18.2** | **-17.2** | **-14.3** | **-12.0** | **-11.7** | **-10.8** | **-12.4** | **-7.2** | **-3.9** | **-1.3** | **-2.5** | **-2.8** |

**سرچینه:** د بیو ارقام د خوړو نړیوال پروګرام له اونیز راپور څخه اخیستل شوي، چې شاخص د نړیوال بانک د کار کوونکو له خوا جوړ شوی.
**یادښت:** دغه شاخص د ټولو ولایتونو څخه د کورنۍ د 11 مهمو توکو د بیو ارقام کاروي. د مصرف او نفوس د وزن په اړه د احصایې او معلوماتو ملي اداري ارقامو څخه ګټه اخلي تر څو د کورنۍ د اساسي توکو انفلاسیون تمایلاتو ته یوه لنډه کتنه وکړي.


## 2. د بهرنیو اسعارو تبادله

**د 2025 کال په فبروری کې افغانۍ د مهمو سوداګریزو شریکانو د اسعارو پر وړاندې نومي ارزښت له لاسه ورکړ، په داسې حال کې چې حقیقي ارزښت یې ثابت و، چې له کبله یې د ډیفلاسیون فشارونه کم شول.**


**1.2. د اسعارو د تبادلې نرخ – جولای 2021 شاخص (لوړه کچه = د ارزښت کمېدل)**





**2.2. د افغانۍ پر ډالر د تبادلې میاشتنی اوسط نرخ**



**3.2 د تبادلې نومي موثر نرخ (NEER) او د بيو نسبي شاخص (RPI) – شاخص (جولای 2021 = 100) (لوړه کچه = د ارزښت زياتوالی)**




**4.2 د تبادلې حقيقي موثر نرخ (REER) – شاخص (جولای 2021 = 100) (لوړه کچه = د ارزښت زياتوالی)**



**سرچينه:** په جدولونو او ګرافونو کې معلومات د افغانستان بانک (DAB) او نړيوال مالي سيستم (IFS) څخه اخيستل شوي، چې د نړيوال بانک کار کوونکو له خوا توضيحات ورکړل شوي.
يادښت: د (RPI) او (REER) د اکتوبر مياشتې لپاره اټکل شوي، چې په سور رنګ روښانه دي.

**5.2** د اسعارو د تبادلې نرخ – د 2021 کال له 15 اګست راهيسې د اسعارو ارزښت لوړېدل/ کمېدل


| | اپریل-30-2024 | می-28-2024 | جون-27-2024 | جولای-31-2024 | اګست-31-2024 | سټمبر-30-2024 | اکتوبر-31-2024 | نومبر-30-2024 | دسمبر-31-2024 | جنوري-30-2025 | فبروري-27-2025 | مارچ-27-2025 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| یورو/افغانۍ | 25.87 | 27.05 | 28.96 | 27.04 | 25.86 | 28.11 | 33.46 | 35.18 | 31.84 | 25.32 | 28.32 | 29.42 |
| پاکستانۍ روپۍ/افغانۍ | 96.79 | 100.91 | 100.51 | 103.31 | 105.53 | 108.13 | 112.21 | 110.28 | 105.61 | 93.80 | 95.88 | 102.83 |
| هندۍ روپۍ/افغانۍ | 42.00 | 42.57 | 42.68 | 42.75 | 42.19 | 47.98 | 48.15 | 46.28 | 47.61 | 43.55 | 44.69 | 46.95 |
| ايراني تومن/افغانۍ | 190.91 | 166.67 | 166.67 | 166.67 | 166.67 | 166.67 | 220.00 | 255.56 | 255.56 | 220.00 | 255.56 | 300.00 |
| امريکايي ډالر/افغانۍ | 18.88 | 20.68 | 21.23 | 21.32 | 22.50 | 25.72 | 28.72 | 26.51 | 22.28 | 14.05 | 17.00 | 21.40 |
| چينايي يوان/افغانۍ | 22.85 | 23.92 | 23.27 | 23.75 | 24.46 | 25.13 | 22.97 | 24.09 | 21.95 | 19.01 | 20.99 | 23.55 |

**سرچينه:** په ګرافونو او جدولونو کې ارقام له افغانستان بانک څخه اخيستل شوي، چې د نړيوال بانک کار کوونکو له خوا يې توضيحات ورکړل شوي.

## 3. د سوداګرۍ پرمختګونه


په 2024 مالي کال کې د افغانستان د سوداګرۍ کسر، د 2023 مالي کال په پرتله د پام وړ زيات و، چې په وارداتو کې زياتوالی او د صادراتو د ودې پر وړاندې ننګونې يې اصلي لاملونه وو.

**1.3 د افغانستان د سوداګرۍ کسر (ميليارد ډالر)**





*سرچينه: اسيکوډا*

**2.3 د افغانستان صادرات (میلیارد امریکایي ډالر): 2024-2023**




***سرچینه:*** *اسیکودا*

**3.3 د افغانستان واردات (میلیارد امریکایي ډالر): 2024-2023**





***سرچینه:*** *اسیکودا*


## 4. عواید

د 2024 مالي کال په جریان کې د عوایدو کچه لوړه وه (241.3 میلیارده افغانۍ)، چې ډېره برخه یې د غیر مالیاتي او ګمرکي عوایدو څخه تر لاسه شوې ده.

**1.4 بشپړ عواید (میلیارد افغانۍ، 2024-25 مالي کال، مارچ 22 – مارچ 21)**





**2.4 د ترکیب له مخې راټول شوي عواید (میلیارد افغانۍ، 2024-25 مالي کال، مارچ 22 – مارچ 21)**





**سرچینه:** د مالیې وزارت

**3.4 په ګمرکونو کې د سرچینې له مخې د عوایدو سلنه (میلیارد افغانۍ، 2024-25 مالي کال، مارچ 22 – مارچ 21)**




**4.4 د داخلي (مالیاتي او غیر مالیاتي) عوایدو ونډه (میلیارد افغانۍ، 2024-25 مالي کال، مارچ 22 – جنوري 21)**




**سرچینه:** مالیې وزارت

**یادښت:** د افغانستان مالي کال میاشت حمل، د مارچ له 22 نېټې څخه پیل چې د اپریل تر 21 نېټې جریان لري.

**د افغانستان په اړه د تحلیلي راپورونو د لیدلو لپاره، مهرباني وکړئ له لاندې ویبپاڼې څخه لیدنه وکړئ:**

https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan.

د معلوماتو په اړه یادښت: د افغانستان اقتصاد څارنې راپور د نړیوال بانک د کارمندانو له خوا جوړیږي، چې له بېلا بېلو سرچینو څخه معلومات اخلي. د محدودو معلوماتو شتون په پام کې نیولو سره، معلوماتي سرچینې او پوښښ کېدای شي په مختلفو چاپونو کې توپیر ولري. د هر ګراف لپاره د معلوماتو سرچینې یادې شوي دي. د افغانستان اقتصاد څارنې راپور له لاندې سرچینو څخه معلومات کاروي: (i) د احصایې او معلوماتو ملي ادارې (NSIA) له خوا تولید شوې د بیو رسمي احصایې; (ii) د خوړو نړیوال پروګرام له لورې له ټولو ولایتونو څخه د بیو او معاشونو په اړه راټول شوي معلومات; (iii) د افغانستان بانک له لورې د تبادلې د نرخونو راټول شوي او راپور شوي معلومات; او (iv) له اسیکوډا څخه د سوداګرۍ په اړه تر لاسه شوي